AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۵/۱۰/۰۵

# د ابتدایه ښوونځي، د درنو او معظمو ښوونکیو دیدار



(۱)

لوی تجیر لاندې خای ځای هلکان پر شنه ترپال ناست ول او مخې ته يې تورې دړې لګیدلې وې.
داسې شور به جوړ و چې مکوه پوښتنه. دا په هریپور کیمپ کې زموږ ابتدایه ښوونځی و، چې ابو سعيد الخدري، يې باله.

موږ به د لرګي پر کوچنیو دړو، په سیاهی، د کړکي په قلم ، خط لیکه. منګولې به مو داسې تکې تورې وې لکه د ګورګورو ټولولو پسې چې تللي یوو.

په هغه ورځ چې مو الفباء په څه خوارۍ او ګډه وډه لیکلې وه؛ ښوونکی صیب راغی، زموږ کاږه واږه خطونه يې وکتل او بیا يې ویل: آفرین، یو وخت به لخیره خپلو خپلوانو، انډیوالانو ته ښایسته خطونه لیکئ، کتابونه به لیکئ او...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما چي هغه ورځ ( ج) په پوره زړه چاودون ليکلی و، د استاذ خبرې راته هسي ټوکي ښکاره شوې. ما ويل موږ او خط ليکل!

نن چي مي همدې مهربان ښوونکي محترم الحاج دنيا گل نيازي صيب ته خپل کتاب ډالی کاوه، په يوه شيبه کي خيال کي بيا د ابوسعيدالخدري د ابتدايه ښوونځي زده کوونکی شوم. او هماغه صحنه را ياده شوه.

(۲)

د ابتدايي ښوونځي له ټولگيوال او گران ملگري انجينير صيب **Azizullah Niazi** څخه مي د هماغي دورې د يو بل ښوونکي پوښتنه وکړه، ويل يې همدلته دی او راغلی.

خوشاله شوم، شيبه وروسته يې احوال راوليږه چي که خپل استاذ گورې نو راځه.
له درانه مشر **Sadaqat Niazai** صيب سره يو ځای ور روان شوم.

استاذ مو لکړه (امساء) په لاس ولاړ و. ما ويل استاذه:

همدا اوس داسي ډارېږم لکه سبق چي مي نه وي زده کړی او ته لښته په لاس ټولگي ته راشې!
استاذ موسک شو.

دا استاد ښاغلی عطا خان نيازی و. ابتدايه ښوونځي کي مو د رياضي ښوونکی و. هم يې تدريس کي له موږ سره ښه کوښښ کاوه او هم په نظم او دسپلين کي. چي ټولگي ته به راننوت، نور به خاموشي خپره شوه.

نني مجلس کې، چي د انجينير صيب عزيزالله نيازي، د زوی د خوړې په مناسبت جوړ شوی و (ور ته مبارک دي وي)، هم زه د خپلو درنو ښوونکيو په ليدلو خوښ شوم او هم هغوی د خپل زده کوونکي په ليدلو.

زه، د هر هغه چا درناوی پر ځان واجب گڼم چي حتی يوه کلمه مي ترې زده کړې وي. د حضرت علي [رض] دا خبره مي ډيره خوښيږي چي فرمايي:

**«من علمنی حرفاً فهو مولايی»**

هغوی خو راته د لا ډير قدر او احترام وړ دي چي کلونه- کلونه مي ښوونکي او استادان پاتي شوي دي.
رب دي زما وفات شوي استاذان وبخښي او ژونديو ته دي له روغ صحت سره اوږده عمرونه ور نصيب کړي.

امين ثم امين


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ